د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت



اونیز راستنیدنه عودت هفته نامه

۹۱ یمه ګڼه، ۱۴۰۴ سلواغه: لومړی مخ/ شماره ۹۱ دلوه ۱۴۰۴: صفحه اول

## د مهاجرینو چارو وزارت لسګونو کارمندانو د مدیریتي ښوونیزو برنامو فراغت سندونه تر لاسه کړل

د مهاجرینو چارو وزارت ۵۳ تنه کارمندان د ارتباطاتو مدیریت، اداري مراسلاتو، انګلیسي ژبې، د کمپیوټر اساساتو او ایمیل ښوونیزو برنامو تر بشپړولو وروسته، چې د کارکوونکو چارو ریاست د ظرفیت لوړونې امریت له لوري جوړې شوې وې، د فراغت سندونه تر لاسه کړل. په دغه غونډه کې، چې د وزارت د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، د یاد وزارت مالي او اداري معین شیخ کلیم الرحمن فاني په خپلو خبرو کې فارغانو ته وویل، چې له دغو برنامو څخه د خپل هېواد او ولس د خدمت لپاره پوره وګټه واخلي.

همدارنګه د یاد وزارت د دعوت او ارشاد رییس مولوی محمدجان خدرخیل د عصري زده‌کړو پر ارزښت او تر لاسه کولو ټینګار وکړ.

د غونډې په پای کې فارغو کارمندانو ته د مالي او اداري معین، د دعوت او ارشاد، کارکوونکو چارو او د موسسو د انسجام ریيسانو له لوري د فراغت سندونه ورکړل شول.



## نشست هماهنگی رییس مهاجرین ولایت پکتیکا با نماینده های سازمان جهانی خوراک برگزار شد

نشست هماهنگی میان مولوی حمد الله فاتح، رییس مهاجرین و عودت کننده گان ولایت پکتیکا، با نماینده های سازمان جهانی خوراک برگزار شد.

درآن نشست مشکلات، نیازها و کمک های بشردوستانه مورد نیاز مهاجرین و بیجاشده گان داخلی مورد بحث و بررسی قرار گرفت.

رییس مهاجرین پکتیکا در مورد وضعیت مهاجرین، مشکلات اقتصادی، و نیاز به ادامه کمک سخنرانی نموده تأکید بر تداوم همکاری و کمک طور عادلانه و شفاف را نمود.

نماینده های سازمان جهانی خوراک نیز معلوماتی در مورد برنامه های آن نهاد را ارائه و متعهد بر تقویت هماهنگی دو طرف، همکاری، تفاهم و تعهدات متقابل شدند.



## بیش از ۳ هزار خانواده مهاجر در هفته جاری در کشور مساعدت شد

برای ۳۳۲۴ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، آسیب پذیر و جامعه میزبان در ولایات کابل، ننگرهار، ارزگان، بلخ ، خوست،کمک های نقدی، خوراکی و غیر خوراکی در هفته روان توزیع شد. طبق گزارشات از ولایات، برای ۳۰۸ خانواده در کابل مبلغ ۳ میلیون ۳۹۵ هزار و ۵۹۰ افغانی، برای ۱۲۰۰ خانواده در ننگرهار مبلغ یک میلیون و ٦۲ هزار افغانی و ٦ قلم مواد خوراکی، برای ۱۰۰۰ خانواده در ارزگان ۳ قلم مواد خوراکی، برای ۲۱٦ خانواده در بلخ ۱۱ قلم مواد خوراکی و برای ٦۰۰ خانواده در خوست ٦ قلم مواد خوراکی کمک نهاد های همکار داخلی و خارجی بود که پس از شناسایی برای آنان توزیع شد.

همچنان، برای ۱۲۵ تن از اطفال زیر سن در ولایت فراه مبلغ یک میلیون ٦۹۱ هزار و ۲۵۰ افغانی و برای ۵۰ تن از خانم ها در بادغیس مبلغ ۹۰ هزار افغانی نیز کمک نهاد همکار بود که افراد متذکره آن را پس از شناسایی بدست آوردند.



## سرپل او جوزجان کې زرګونو کورنیو ته د نغدي مرستو او غنمو وېش لړۍ پیل شوه

د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د فرمان پر بنسټ تېره ورځ د ریاست الوزرا اداري مرستیال، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر او سیمه‌ییزو مسوولینو له لوري په سرپل او جوزجان کې ۴ زره ۴۰۰ راستنو شویو کورنیو ته د نغدي مرستو او غنمو وېش لړۍ پیل شوه.

د یادو ولایتونو د مهاجرینو چارو مسوولینو پر خبره، په دغو مرستو کې ۵ بوجۍ غنم او ۵ زره افغانۍ نغدې پیسې شاملې دي، چې د دولتي ادارو ګډ پلاوي له لوري به په سرپل کې ۲ زره ۲۰۰ او جوزجان کې به ۲ زره ۲۰۰ راستنو شویو کورنیو ته ووېشل شي.

## د پاکستان له بندخونو تر ۲۰۰ زیات افغان مهاجرین ازاد او هېواد ته راستانه شول

روانه اونۍ کې د پاکستان له بندخونو ۲۵۵ تنه افغان مهاجرین ازاد او هېواد ته راستانه شول.

د کندهار د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د سپین بولدک د لېږد امریت د راپور له مخې، یاد کسان له یوې ورځې تر ۲ میاشتو پورې بندیان وو، چې په دغه امریت کې تر ثبت او د بشري مرستو له ترلاسه کولو وروسته خپلو اصلي سیمو ته ولېږدول شول.